دویمه کچه

# ده هر ورز اتلان

التعليم فوق الجميع | education above all



**لیکوال:** میناکشي ډیوان
**انځور گر:** شیریش گاتج

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



نن ورځ بل ډول وه.
ډېرى ځوانان دندو ته نه تلل.
ماشومان له ښوونځيو منع شوي وو.



زده کوونکو نور نشوی کولی چې خپل ملګري و ویني او په پارکونو کې لوبې وکړي.

په هوا کې یو ویروس ؤ.
او دغه ویروس کرونا نومیده او ډیر خلک یې په ناروغۍ اخته کړی وو.



بیا نو اتلان را پورته شول تر څو خلک وژغوري.
ځینو د درملنې لپاره متې را پورته کړې او ځینو د ناروغانو پاملرنه کوله.
ځینو نورو د دغه ویروس د خپریدو مخنیوی کاوه. دغو اتلانو چپنې نه اغوستې. هغوی آلوتنه نشوی کولی. هغوی تورې یا قمچینې نه درلودې. هغوی پوز بندونه او د ژغورنې جامې آغوستې. هغوی له ځان سره ستیتیسکوپ او ترمامیتر درلودل. هغوی په مایکروسکوپ باندې میکروبونه معلومول او د هغوی راپور یې جوړاوه.




دغه اتلان په هر ځای کې وو.
لکه، د خلکو په کورنو، په ګاونډ، لابراتوارونو او روغتونونو کې.

د کلو روغتیايي کار کوونکو به خپل کارونه سهار وختي پیلول. هغوی به کور په کور په قریو او ښارونو کې ګرځیدل. دغو اتلانو به خلکو غوښتل تر څو خپل لاسونه ومینځي، په کورنو کې پاتې شي، او کله چې بهیر ځي نو پوز بندونو دې واغوندي. او همدارنګه یو له بل څخه د دوه مترو واټن ساتلو سپارښتنه کوله.




کله به چې خلګ ناروغان شول نو د لابراتوار ډاکتر به د ناروغ له بدن څخه نمونې اخيستې او معاينه کولې يې.
هغوی د لابراتوار وسايل او د کمپيوټر پروګرامونه د معايناتو لپاره کارول او بيا به يې نتيجې له ډاکترانو سره شريکولې.



نرسانو به د ناروغانو پاملرنه په روغتونونو یا په کورنو کې کوله. هغوی به ناروغانو ته درمل ورکول او د هغوی د بدن تودوخه او د آکسنجن اندازه کتله. دوی به له ناروغانو سره مرسته کوله تر څو روغ شي.





که چیرته به دغه ویروس په سږو حمله وکړه، نو د سږو ډاکټر به ورته پاملرنه کوله.
دوی د ناروغانو سږو او تنفسي سیستم ته ډېر پام کاوه. او دغو ډاکټرانو به صحي راپورنه کتل او درملنه به یې پیل کړه.



ویروس پېژندونکو او ډاکټرانو به څېړنه کوله. هغوی به ویروسونه څېړل. نوي درمل به يې جوړول تر څو د ناروغانو درملنه وکړي او د مخنوي لپاره يې ورته واکسینونه تطبيقول.

کله چې په لومړي ځل دغه ناروغي خپره شوه، ویروس پوهانو څېړنې پیل کړه. او لکه د څارنوالانو په شان هڅوی خپلې پوښتنې پیل کړې. دغه ویروس چیرته پیدا شو؟ څنګه خپور شو؟ ولې دومره ژر خپریږي؟ او څوک ډیر له خطر سره مخ دي؟ دوی کوښښ وکړ تر څو پوه شي چې څرنګه د دغه ویروس مخنیوی وکړي. د دوی هڅې کولی شي د راتلونکو ستونزو مخه ونیسي.





کله به چې خلک و ویریدل، په تشویش کې به شول، ګنس به شول، په غصه به شول او یا به ستړي شول؛ نو اروا پوهانو به ورته غوږ نیوه او لارښوونې به یې ورته کولې.

همدا رنګه به رواني ډاکټرانو عصبانیت او خفګان ته درمل ورکول.


د توکو وړونکو به اړین توکي لکه خواړه او درمل د خلکو کورنو ته وړل.
د امبولانس چلونکو به ناروغان روغتونونو ته وړل.
راپور ورکونکو به له ټولې نړۍ معلومات را ټولول.
خځل ټولونکو به په کلی کې خځل راټولول.

دغو ټولو اتلانو به په ساعاتونو، ساعاتونو کار کاوه. دوی به خپل ژوند په خطر کې اچوه او د نور ژوند به یې ژغوره. همدغه اتلان به تل تیار وو کله به چې ورته اړتیا شوه.

او دوی هره ورځ اتلولي کوله.





# لارښودونکې پوښتنې

1. کوم اتل پيژنئ؟ آيا کولی شئ د داسو اتلانو په اړه فکر وکړئ چې زمونږ نړۍ اوس هم ورته اړتيا لري؟
2. تاسو څو کلن وئ چې د کرونا ويروس خپور شو؟ آيا په ياد مو دي چې څه پيښ شول، تاسو او ستاسو کورنۍ څه احساس درلود؟
3. اتلان او عادي وګړي څه فرق لري؟
4. ولې فکر کوئ چې روغتيايي کار کوونکي د کرونا په وخت کې ريښتيني اتلان دي؟ دوی کوم ځواک لري او دوی څنګه ژوند ژغوري؟
5. څنګه تاسو کولی شئ چې بې له زبر ځواکه اتلان شئ؟